**مطبوعاتي اعلاميه**

**د ډالرو ناورين د نورو پورونو لپاره په سوال کولو او اقتصادي منشور نه حلېږي؛ بلکې یوازې د خلافت نړیوال اقتصادي نظام په بشپړ پلي کولو حلېدی شي!**

د وارداتو او پورونو ورکولو لپاره له صادراتو او بهر ته د پاکستانیانو له حوالو څخه د ډالرو راټولولو پالیسي بشپړه ناکامه شوې. نورې ټولې اقتصادي پالیسۍ هم ناکامې شوې؛ ځکه چې دا اقتصادي پالیسۍ او ماډلونه نړیوال استعمارګر نظم ته د غلامۍ پر بنسټ دي. پاکستان اوس یوازې دومره ډالر لري چې تر یوې میاشتې کم واردات پرې وکړی شي.

پاکستان په سوال د نورو پورونو غوښتلو او دغو پورونو لپاره د مهالوېش په جوړولو هڅه کوي یوه حتمي ناکامي وځنډوي. د ډالرو ناورین د حل کولو لپاره د وارداتو درول، یوازې دومره کوي چې صنعت زیانمن شي. اقتصادي فعالیتونه عملاً په ټپه ولاړ دي او کاروبارونه خپل سلګونه او زرګونه کارکوونکي له دندو لرې کوي.

واکمن ګوندونه او اپوزیسیون هم کومه اقتصادي حللاره نه لري. دا ټول ګوندونه یوازې پانګوال اقتصادي ماډل او پالیسۍ پلې کوي. نو که اقتصادي منشور هم لاسلیک کړي، دا ګوندونه د ناکامۍ مخه نه شي نیولی. د تکنوکراتانو حللارې هم پخوا څو څو ځله ناکامې شوې دي، ځکه چې دوی هم د پانګوال نظام پالیسۍ پلې کوي. خبره له مالي فساده وتلې، نو د «صادقو او رښتینو» خلکو ګومارل هم ستونزه نه شي حل کولی. د پانګوال نظام ماته ټولو ته څرګنده ده. یوازې د اسلام انقلابي اقتصادي ماډل او پالیسۍ دغو اقتصادي ستونزو ته حللارې وړاندې کولی شي!

د اسلام اقتصادي ماډل له اوسني نړیوال نظم، له واشنګټن وروسته اجماع (post-Washington Consensus)، د پیسو نړیوال صندوق او نورو غربي بنسټونو څخه نه راوځي. د اسلام اقتصادي ماډل د غربي پانګوال نظام تر واک لاندې کار نه کوي، چې زموږ اقتصاد د غربي اقتصادونو لپاره د ارزانه اکمالاتي ځنځیرونو په توګه وکاروي. په دې خبره کولو کې هېڅ د ویاړ ځای نشته چې دغه هېواد غرب ته د دغو توکو او خدمتونو په وړاندې کولو ډالر ګټي.

اسلام خپل نړیوال نظم رامنځته کوي او ټوله نړۍ له پانګوال استثماري نظام څخه ازادوي. خلافت په نړۍ کې اسلامي اقتصادي نظم نافذوي. خلافت به د نړیوالې سوداګرۍ لپاره ډالر د اسعارو په توګه ونه مني، بلکې معاملې به په سرو او سپینو زرو کوي؛ په دې توګه به د امریکا د واکمنۍ اصلي ستن چپه کړي. خلافت به د اسلامي نړۍ په یو ځای کولو سره د دولت-ملت فکر په پایله کې رامنځته شوی د شتمنۍ ناعادلانه وېش ختم کړي. د سرچینو په راټولولو سره به خلافت دولت په ټوله اسلامي نړۍ کې د نفتو، ګازو، کرنیزو محصولاتو، کانونو او بشري سرچینو کمښت پای ته ورسوي.

د اسلام له منشور پرته بل هېڅ منشور دا ستونزې نه شي حل کولی. څومره چې د اسلام له بشپړ پلي کولو لرې کېږو، هومره مو ستونزې زیاتې او پېچلې کېږي. اسلامي نړۍ د خلافت د تاسیس لپاره چمتو ده. جبریه واک پای ته رسیدو ته نږدې دی. نو اې د پاکستان وسلهوال ځواکه! چمتو یئ چې حزب التحریر ته په نصرت ورکولو سره پر خپله غاړه پروت مسولیت ترسره کړئ؟ امت مو ځواب ته په تمه دی. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

**«ثُمَّ تَكُونُ مُلْكاً جَبْرِيَّةً فَتَكُونُ مَا شَاءَ اللَّهُ أَنْ تَكُونَ ثُمَّ يَرْفَعُهَا إِذَا شَاءَ أَنْ يَرْفَعَهَا ثُمَّ تَكُونُ خِلَافَةً عَلَى مِنْهَاجِ النُّبُوَّةِ، ثُمَّ سَكَتَ»**

**ژباړه:** *«...وروسته به جبريه او ظالم حکومتونه راشي، تر کله چې د الله تعالی خوښه وي، دوام به وکړي، بيا چې کله الله تعالی وغواړي، ليرې کوي يې او يو ځل بيا به د نبوت پر منهج خلافت راځي. بيا (رسول الله صلی الله عليه وسلم) چوپ شو.»* [مسند احمد]

**د حزب التحرير.ولايه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۴ هـ.ق کال، د جمادي الاول ۱۹مه**

**۲۰۲۲م کال، د ډسمبر۱۳مه**

**د صدور ګڼه: ۱۹/ ۱۴۴۴**